## په اسلام کې د ښځې موقف او عزت او په کفري نظامونو کې د هغې ذلت!

### (ژباړه)

کله چې ډیموکراسي رامنځته شوه او دغه نظام د انسان غرایز ازاد پرېښودل، نو کافر غرب له هماغه ورځې راهیسې په دې شرمېدلي حالت کې د ښځو له حقونو څخه د دفاع چیغې وهي. غرب چې کله نړیوال سازمانونه، بنسټونه او د ښځو د ژوند لپاره نوي قوانین جوړل کړل، نو د ښځو عزت، حقونه او پاکوالی یې همغه وخت تر پښو لاندې کړ. پورته ټکي د پانګوالۍ کلتور ته خدمت دی؛ هغه نظام چې د مصلحت او ګټو پر بنسټ ولاړ دی او د ټولو دیني، اخلاقي او انساني ارزښتونو پر ځای یوازې مادي ارزښتونو ته پام کوي.

له هغې ورځې وروسته چې ښځو په غرب او نورو هېوادونو کې د دغه نظام پیرو کوي؛ له ذلت، فساد او سختۍ پرته یې بل څه نه دي تر لاسه کړي او له هدایت څخه لرې شوې دي. ښځو په پانګوال نظام کې د سوداګریزو جامو حیثیت غوره کړی دی او دغه نظام د ښځو له بربنډېدو او ذلته ګټه اخلي. د هغوی پر عزت او کرامت د سوداګرۍ له لارې ځان ته د ژوند امکانات برابروي. ښه بېلګه یې په غرب کې ټولنیز ژوند دی، چې غربي ښځې بدمرغه شوې دي. د دغه نظام له ناوړه پایلو ځورېږي او شکایت کوي، خو د خپلو ستونزو حللار نشي موندلی.

په غرب او شرق کې د ټولنیز ژوند په اړه ډېری سمینارونه، مقالې او څېړنیز مرکزونه د دې شاهد دي، چې ښځې نور له هغه ژوند څخه ستړې شوې دي چې د ډیموکراسۍ پر اساس جوړ شوی دی. په دغو څېړنو کې اخلاقي کمزوري، تېری او ځورونې ښکاري. دغه راز کورنۍ ستونزې او د بې سرپرسته ماشومانو د ساتنې او لوېدنې شمېرې هم  حیرانوونکې دي. ولې به دا شمېرې حیرانوونکې او لوړې نه وي، په داسې حال کې چې بشر د پانګوالۍ په ظالم رژیم کې ژوند کوي او د الله سبحانه وتعالی له شریعت او هدایت څخه لرې دی. له اسلام څخه لریوالي او پانګوال نظام ته نیږدې کېدو بشر تباهۍ په لور روان کړی او فساد یې په ځمکه او اوبو کې ډېر کړی دی. الله سبحانه وتعالی تر قیامت پورې ادم او حوا علیه السلام او د هغوی نسل مخاطب کړي او فرمايي:

**﴿قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعاً بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى * وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكاً وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾**

[طه: 123-124]

***ژباړه:*** *تاسو دواړه (ادم او حوا) له جنت څخه ووځئ او په ځمکه کې ژوند وکړئ. هلته به ستاسو ځینې زامن د ځینو نورو دښمنان شي. کله چې زما هدایت او لارښوونه در ورسېده او هغو کسانو چې پیروي یې وکړه، هېڅکله به ګمراه او بدمرغه نه شي او هغه څوک چې له ما څخه مخ واړوي او له اسماني کتابونو او احکامو څخه لرې*

*شي، ژوند به يې ستونزمن وي. ځکه دا کار په نصيب نه کېږي او په دې ډول به الهي قضا او قدر ته تسليم هم نه شي. د محشر په ورځ به ړانده د حساب لپاره له نورو سره يو ځای راټولېږي.*

الله سبحانه وتعالی انسان جوړه (ښځه او نر) پيداکړي او ځمکې ته يې خليفه هم رالېږلی. الله سبحانه وتعالی پوهيږي چې د انسان لپاره کوم شی ګټور او کوم شی فاسد دي. د ښځې او نر اړيکه يې له شرعي احکامو سره سمه، مکمله او يو د بل پر ملاتړ جوړه کړې ده. د الله سبحانه وتعالی شريعت د خپلو بنده ګانو لپاره د ژوند هره برخه لري؛ لکه سياست، اقتصاد او ټولنه.

د هغه ايمان پر اغېز سربېره چې پر الله سبحانه وتعالی او د هغه پر عدالت يې لرو؛ پر کتاب (قرآن) او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر سنتو منګولې لګول مو وجيبه ده. له هر ډول ناهيلۍ پرته به د ژوند تر پايه پر الهي شريعت عمل کوو او له الله سبحانه وتعالی سره به په کړې ژمنه وفا کوو. هېڅکله مو د غرب چل او بې ځايه شعارونه بې لارې کولی نشي. کافر او مجرم غرب چې د اسلامي خاورې يې پر وينو رنګ کړې؛ پر ښځو تېری کوي او ټول حقونه يې تر پښو لاندې کوي. په داسې حال کې چې په دروغو سره د ښځو د حقونو د ملاتړ نارې هم وهي.

موږ هغه کسان وينو چې په اسلامي نړۍ کې د کفري سازمانونو، رسمي او نارسمي موسيسو مسووليت لري. دوی شپه او ورځ د مسلمانو ښځو، نجونو او کورونيو د جدا کولو او کورنې ژوند د له منځه وړلو هڅې کوي. غواړي د مسلمانې ښځې او نر تر منځ اخلاقي رذالتونه رامنځته کړي. همدارنګه دغه سازمانونه د قوانينو تصويب او پراخوالی غواړي. لکه؛ ژمنليک (CEDAW) يا د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د مخنيوي کنوانسيون. دغه کنوانسيون له هغه څه سره مخالفت کوي، چې له اسلام څخه په اسلامي خاورو کې پاتې دي؛ لکه د واده، طلاق، ميراث، کورنۍ اړيکې او داسې نور قوانين، چې په شرعي محکمو کې شخصي قوانين ياديږي.

دا يو ناوړه حالت دی او موخه يې دا ده چې مسلمانه ښځه هم بايد د بې دينه غربي ښځې ژوند تجربه کړي. هغه ځای چې اخلاقي فساد پکې قانوني، زنا پکې ارزانه وي او د هغو قوانينو ملاتړ پکې کېږي چې ښځه دې له کور څخه په بې عزتۍ کې بهر شي. تر څنګ يې نر پر دې مکلف دی، چې پر وړاندې يې هېڅ ونه وايي او که کوم غبرګون يې وښود ځای به يې زندان وي. زموږ لپاره د خلاصون لار يوازې دا ده، چې د حق د ټينګښت او د باطل د له منځه وړلو لپاره مبارزه وکړو. د حق لار يوازې د الله سبحانه وتعالی په شريعت او په هغه څه کې ده، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وسيله رالېږل شوي دي او د الله سبحانه وتعالی له شريعت پرته هر څه باطل دي.

**اې مسلمانانو!** که اسلامي امت هغه دولت درلودای، چې د الله سبحانه وتعالی د شریعت پر اساس حاکمیت کوي یا هغه خلیفه وی چې د الله سبحانه وتعالی له خوا رالېږل شوی شریعت یې د حق او باطل تر منځ عدالت او حاکمیت کوي، نو هېڅکله به کافر غرب دا جرات نه شو کولی چې زموږ پر خاورو خپل گمراه کوونکي قوانین پلي کړي. ابو هریره روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ، فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَعَدَلَ كَانَ لَهُ بِذَلِكَ أَجْر، وَإِنْ يَأْمُرْ بِغَيْرِهِ كَانَ عَلَيْهِ مِنْهُ»**

(رواه مسلم)

***ژباړه:*** *امام هغه ډال دی، چې خلک له هغه څخه په پیروۍ له کفارو سره جنگېږي او هغه ته پناه وروړي. که هغه د تقوا او عدالت امر وکړي، نو اجر تر لاسه کوي؛ خو که پر ظلم امر وکړي، د عذاب مستحق کېږي.*

**لیکوال: عبدالعزیز محمد**

**ژباړن: حبیب الله**